د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت اطلاعات و فرهنگ

# د خصوصي مطبعو د پرانیستنې او فعالیت بنې کړنلاره

کال: ۱۳۹٦ ل.ل

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

<u>**مبنا**</u>

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره د ټولیزو خصوصي رسنیو د فعالیت او پرانیستنې دول مقررې په رڼا کې د خصوصي مطبعو د پرانیستنې او فعالیت د چارو د ښه والي او سمون په موخه وضعه شوې ده.

<u>**موخې**</u>

**دویمه ماده:**

د دې کړنلارې موخې په لاندې ښه دي:

۱ – د هېواد په کچه د خصوصي مطبعو د پرانیستونکو لپاره د اسانتیاوو برابرول.

۲ – د خصوصي مطبعو د جواز لیکونو د وېش اړوند چارو ښه سمون.

۳ – د خصوصي سکتور په برخه کې د خصوصي مطبعو او د معیاري چاپي صنعت په کړنو څار.

۴ – د جواز لیکونو د اخیستلو او ثبت په موخه د مطبعو پرانستونکو ته د ټولو معلوماتو وړاندې کول.

## دویم فصل

## د خصوصي مطبعو د پرانیستنې شرایط

<u>**د امتیاز خاوند**</u>

**درېیمه ماده:**

مطبعې د امتیاز خاوند لري.

<u>**د امتیاز خاوند شرطونه**</u>

**څلورمه ماده:**

د خصوصي مطبعې د امتیاز خاوند د ټولیزو رسنیو قانون د حکمونو، د خصوصي رسنیو د جوړولو او فعالیتونو ترسره کولو د مقررې او دغې کړنلارې سره سم لاندې شرایط لري:

(۱) حقیقي اشخاص:

۱ – د افغانستان د تابعیت سند لرل.

۲ – د اتلس کلنۍ عمر بشپړول.

۳ – د با صلاحیته محکمې د حکم پر اساس له مدني حقونو څخه محروم نه وي.

(۲) حکمي اشخاص:

۱ – په لوړو دولتي ادارو کې ثبت او راجسټر.

۲ – د اړوند مسؤلو ادارو له لوري د افغاني هویت تثبیت.

۳ – د با صلاحیته محکمې د حکم پر اساس له مدني حقونو څخه محروم نه وي.

**معلوماتي فورم**

**پینځمه ماده:**

۱ – بشپړه پېژندګلوي.

۲ – د فعالیت بڼه.

۳ – د مطبعې نوم.

۴ – د فعالیت ځای.

۵ – د فعالیت موخې.

٦ – د پانګې اندازه او د تمویل سرچینې.

۷ – د ماشین آلاتو کمیت، کیفیت او د اړتیا وړ توکي.

**د اړتیا وړ اسناد**

**شپږمه ماده:**

۱ – د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د مطبعې د پرانیستنې لپاره غوښتنلیک وړاندې کول.

۲ – د امتیاز خاوند د تذکرې رنګه کاپي.

۳ – د امتیاز خاوند د تحصلي اسنادو کاپي.

۴ – دوه ۳/۴ انځورونه.

۵ – د اساسنامې لرل.

٦ – د مطبعې د نښان (لوګو) تشریح.

۷ – د ځانګړي مُهر (ټاپې) لرل، چې د مطبعې له نښان (لوګو) سره مطابقت ولري.

**د اساسنامې شرطونه**

**اوومه ماده:**

د امتیاز خاوند مکلف دی، چې د اساسنامې په متن کې لاندې موارد په نظر کې ولري:

۱ – د مطبعې عنوان او موخې.

۲ – د مطبعې د فعالیت ساحه.

۳ – د مطبعې تشکیلاتي جوړښت.

۴ – د تمویل سرچینو یادونه.

۵ – د مطبعې د مرکزي دفتر او استازولیو د ځای ټاکل.

٦ – د مطبعې د مالي چارو د تصفیې بڼه او د انحلال موارد.

**<u>د جواز د ثبت او صادرولو مرجع</u>**

**اتمه ماده:**

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دومي واحدونو ته دنده ورکوي، چې د خصوصي مطبعو غوښتونکو ته د فعالیت جواز د ټولیزو رسنیو قانون د حکمونو، د خصوصي رسنیو د تأسیس او فعالیت بڼې مقررې او دې کړنلارې سره سم ورکړي.

**<u>د جواز لیکونو د وېش شرطونه:</u>**

**نهمه ماده:**

۱ – د مطبعې د فعالیت جواز د حق الامتیاز او تضمین په بدل کې د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي په مقرره کې درج او د دریو کلونو لپاره صادرېږي.

۲ – د خصوصي مطبعو د پرانیستنې او فعالیت د جواز غوښتنلیک د ټولیزو رسنیو د کمېسیون له څېړنې وروسته د اجرا وړ دی.

۳ – د خصوصي مطبعو د پرانیستنې او فعالیت جواز لیکونه د دې کړنلارې په شلمه ماده کې د درج شوي فني هیأت له تائید وروسته د اجراآ وړ دي.

۴ – د مطبعې مسوول مکلف دی، چې د دریو کلونو له تېرېدو وروسته د ټولیزو رسنیو د حکمونو، د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې او له دغې کړنلارې سره سم خپل د فعالیت جواز وغزوي.

۵ – که چېرې مطبعه د فعالیت جواز د نېټې له پای ته رسېدو وروسته، د خپل جواز د غزولو(تمدید) لپاره رانشي، د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې سره سم د ذکر شوې مطبعې نوم د ثبت له کتاب څخه لېرې کېږي.

٦ – مطبعه کولی شي، چې د جواز ترلاسه کېدو وروسته خپل فعالیت پیل کړي.

**<u>تجهیزات</u>**

**لسمه ماده:**

د خصوصي مطبعې خاوند مکلف دی، چې د لاندې باکیفیته ماشینونو او تجهیزاتو لېست د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندې کړي:

۱ – چاپي ماشین.

۲ – د کاغذ پرېکولو ماشین.

۳ – د سیم په مرسته ګنډونکی ماشین.

۴ – د کاربوني څراغي اندازه د لایت کاپي شکنجه ماشین.

۵ – کمپیوټر.

٦ – منتاژ ماشین.

٧ – جنراتور.

٨ – د صحافي برخې ځانګې.

## دریم فصل

## د مسؤل مدیر مکلفیتونه او شرطونه

**مسؤل مدیر**

**یوولسمه ماده:**

خصوصي مطبعه د مسؤل لري.

**د مسؤل مدیر د ټاکلو شرطونه**

**دوولسمه ماده:**

(١) د لاندې شرطونو په لرلو سره، یو شخص د مسؤل مدیر په حیث ټاکل کېدای شي:

١ – د هېواد د تابعیت سند لرل.

٢ – د یوویشت کلنۍ عمر بشپړول.

٣ – د مسلکي زده کړو د سند لرل، یا درې کلنه مسلکي کاري تجربه.

٤ – د صلاحیت لرونکې محکمې د حکم پر اساس له مدني حقونو څخه محروم نه وي.

٥ – د افغانستان د اساسي قانون په یو سلو دوه پنځوسمه ماده کې له ذکر شویو اشخاصو څخه نه وي.

(٢) که د امتیاز خاوند د مسؤل مدیر په توګه ټاکل کېږي، د دې مادې د (١) فقرې د شرطونو لرونکی دی.

**د مسؤل مدیر صلاحیتونه او دندې**

**دیارلسمه ماده:**

د مطبعې مسؤل مدیر لاندې صلاحیتونه لري:

١ – د مطبعې د برنامو او موخو طرحه او پلي کول.

٢ – د مطبعې اړونده چارو او نورو مسلکي برخو رهبري.

٣ – په کورنیو او بهرنیو ناستو کې له اړوندې مطبعې استازیتوب.

٤ – د اساسي قانون د حکمونو، د ټولیزو رسنیو قانون، د خصوصي ټولیزو رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې، د دې کړنلارې او د هېواد د نورو نافذو تقنیني اسنادو له مراعت کولو څخه د لاس لاندې کارکوونکو خبرول.

۵ – د هر کال په پیل کې د اړوندې مطبعې له فعالیت او نه فعالیت څخه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خبرول.

٦ – اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د مسلکي فعالیتونو راپور ورکول.

۷ – اړونده تقنیني اسناد او نورې دندې، چې په دې کړنلاره کې کښل شوې دي.

**<u>د مطالبو د چاپ مسؤلیت</u>**

**څوارلسمه ماده:**

(۱) مسؤل مدیر د ټولیزو رسنیو قانون د حکمونو، د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې او له دې کړنلارې سره سم د مطالبو د چاپ مسؤل دی.

(۲) مسؤل مدیر مکلف دی، چې په خپله مطبعه کې د پېرودونکو د حقونو تر منځ برابري په پام کې ونیسي.

**<u>د چاپ د منع کېدو شرطونه</u>**

**پنځلسمه ماده:**

د ټولیزو مطبعو قانون سره سم د لاندې مطالبو او راپورونو چاپول، نشرول او خپرول جواز نه لري:

۱ – هغه آثار او مطالب، چې د اسلامي اصولو او حکمونو خلاف وي.

۲ – هغه آثار، چې د نورو دینونو او مذهبونو د سپکاوي لامل کېږي.

۳ – هغه آثار، چې د حکمي او حقیقي اشخاصو د سپکاوي او بې عزتي لامل کېږي.

۴ – هغه آثار او مطالب، چې د اساسي قانون خلاف وي او په قانون کې یې د جرم سزا بند وي.

۵ – هغه آثار او مطالب، چې حقیقي او حکمي اشخاصو ته د تور او د هغوی شخصیت او اعتبار ته د زیان اړولو لامل کېږي.

٦ – د اسلام له مقدس دین څخه پرته د نورو دینونو تبلیغ او خپرول.

۷ – د قربانیانو، زور زیاتي او ظلمونو د انځورونو خپرول او هویت څرګندول، چې د هغوی ټولنیز حیثیت زیانمنوي.

۸ – هغه آثار او مطالب، چې د ټولنې غړو په ځانګړې بڼه د ماشومانو او تنکیو ځوانانو رواني امنیت او اخلاقي سلامتیا ته زیان اړوي.

۹ – خصوصي مطبعې د دولتي مُهرونو (ټاپو) جوړولو حق نه لري.

۱۰ – د هر ډول مطالبو چاپ، چې د هېواد د قوانینو خلاف وي.

**حقونه او امتیازات**

**شپاړسمه ماده:**

د خصوصي مطبعو کارمندان د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې او نورو اړوندو تسجیل شویو تقنیني اسنادو له حقونو او امتیازاتو څخه ګټه اخیستلی شي.

## څلورم فصل

## وروستي حکمونه

**بهرنۍ غیر دولتي مؤسسې او شرکتونه**

**اولسمه ماده:**

یوازې بهرنۍ غیر دولتي مؤسسې او شرکتونه کولی شي، چې د ټولیزو رسنیو قانون د حکمونو، د خصوصي ټولیزو رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي مقررې او له دې کړنلارې سره سم خصوصي مطبعې پرانیزي.

**په یو نوم مطبعه**

**اتلسمه ماده:**

د خصوصي مطبعې د امتیاز خاوند نه شي کولی، په ورته نوم بله مطبعه پرانیزي، مګر دا چې د ټولیزو خصوصي رسنیو د پرانیستلو او فعالیت د څرنګوالي مقررې له حکمونو سره سم د فعالیت جلا جواز ترلاسه کړي.

**د فعالیت د ځای ټاکل**

**نولسمه ماده:**

د مطبعې د امتیاز خاوند نه شي کولی، په هغو ځایونو کې د خپلې مطبعې د فعالیت ځای وټاکي، چې د قانون د حکمونو له مخې د اشخاصو فعالیت هلته منعه شوی وي.

**لویې، منځنۍ او کوچنۍ مطبعې**

**شلمه ماده:**

١ - د لویو، منځنیو او کوچنیو مطبعو د تثبیت معیارونه د فني ډلې له لوري وړاندیز کېږي او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د وزیر له لوري منظورېږي.

٢ – د دې مادې په (١) فقره کې د کښل شوې فني ډلې جوړښت، د دویم واحد له لوري چې د دې کړنلارې له منځپانګې سره سم جواز صادروي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندیز کېږي.

۳ – فني ډله دنده لري، چې د دې مادې د (۱) فقرې کښل شوي معیارونه، نور تجهیزات او ماشین آلات د ټولیزو رسنیو قانون د حکمونو، د خصوصي ټولیزو رسنیو د پرانیستنې او فعالیت د څرنګوالي د مقررې او د دې کړنلارې له مخې د جواز تر صادرولو مخکې و ارزوي.

۴ - د جواز د نوي کېدو په صورت کې فني ډله مکلفه دی، چې د مطبعې ماشینونه او تجهیزات د مطبعو د تثبیت شویو معیارونو او د دې کړنلارې له حکمونو سره سم و ارزوي.

**<u>د پلي کولو ساحه</u>**

**یوویشتمه ماده:**

د دې کړنلارې مواد د عمومي خصوصي مطبعو د پرانیستنې او فعالیت په برخه کې په عادي او ډیجیټلي مطبعو د پلي کېدو وړ دي.

**<u>تعدیل</u>**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د دې کړنلارې مواد د اړوندو تقنیني اسنادو د تعدیل او اړتیا له مخې د تعدیل وړ دي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې تعدیل د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر له منظورۍ وروسته نافذېږي.

**<u>د اجرآ نېټه</u>**

**درویشتمه ماده:**

دا کړنلاره د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر د منظورۍ له نېټې وروسته نافذېږي.

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۲۳) مادو کې په ۱۳۹٦/۳/۲۴ نېټه نافذ شوه.

<u>د تسوید کمېټه</u>

| فیض الله محتاج | محمد حسیب حیات | محمدضیا بومیا |
|---|---|---|
| د بیهقي کتاب خپرولو رئیس | د تقنین او پالیسي رئیس | د ازادي مطبعو د تصدی عمومي رئیس |

دلاور نذیر زوی

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د تقنین او پالیسی چارو سلاکار

وکتل شو

منظور دی.

پوهاند محمد رسول باوري

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست